# حمید مومند

# شاعري

تعجب د هغه کس په حال پکار دي
چې سینه کښې زړه لري او مین نه وي

سپینې ږیرې زما عشق کوته روپې کړه
هیڅ یې نه قبلوي ښکلې په سودا کښې

لکه اور چې ایرې لاندې کاندې مړ شي
خاکسارې مې رقیب ورک کړو هسې رو
رو

يا د ياره سره تللي په سفر واي

په هر ځای مې غوړولی خپل وزر واي

يا په مړ د ببلتانه له غمه زر واي

يا په دوارو سترګو تېپ ړوند په نظر واي

هسې پاتې شوم تر یار پورې مخ تورې
په جرګه د عاشقانو کښې کوز ګورې

سزا وار د هر ستم د هر پیغور یم
چې مې یار په سفر تللی ز په کور یم

فارسیبانو د حیرت ګوته په خوله کړه

چې حمید سخن سازی کړه په پښتو کښې.

چې نازل شو د عشق تندر له اسمانه

ما حمید د غم لایق ورته لاس ونیو

که هزار ځله په صبر او سکون شم
خو چې یار په سترګو وینم مفتون شم
نیم جواب د ترکو نشم ورکولې
که په عقل ارسطو یا افلاطون شم

چې د عشق تاعوني مرض د حميد مل
شو

زر به ښخ شي په هديره کې د ماشول

# KHALID KHAN KAKAR